# آسماني کتابونه او فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْه

28-July-2022



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

28 جولائي 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع كښې كيدونكے بيان

# آسماني كتابونه او فاروقِ اعظم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

يوه ورځ د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د كور نه بهر ته تشريف راوړلو او يواځې يو طرف ته روان شولو، د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدلو نو اُويَريدلو (چې هسې نه څوک دښمن ورته نقصان اُونه رسوي)، نو هغوئي راپاڅيدلو او په خوږ نبـي، مكي مدني مصطفٰـى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې شاته روان شولو، هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اوليدل چې رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو مقام ته اورسيدلو نو اودريدلو او د الله پاک په دربار كښې په سجده پريوتلو. حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې

دا اوليدل نو د ادب كولو سره شاته اودريدلو، چې كله سرورِ عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سجدې نه سر پورته كړو نو فاروقِ اعظم رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ ئې اوليدلو او اوئې فرمائيل: اے عُمره! زه دې په سجده كښې اوليدلم نو ته يو طرف ته اودريدلې، تا ډير ښه اوكړل.

خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: اِنَّ جِبْرِيْلَ اَتَانِىْ فَقَالَ مَنْ صَلّٰى عَلَيْكَ مِنْ اُمَّتِكَ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا وَرَفَعَهُ بِهَا عَشَرَ دَرَجَاتٍ بيشكه اوس جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام زما خوا له راغے او عرض ئې اوكړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! چې ستاسو كوم اُمّتي په تاسو يو ځل درود شريف اولولي، اللّٰه پاک به په هغه لس رحمتونه نازل كړي او لس درجے به ورله هم اوچتې كړي.[1]

مومنو! پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر درود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديث شريف كښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي.[3]



1…معجم اوسط، جلد:5، حديث:6602ملتقطاً۔

2…قبالہ بخشش، صفحه:164۔

3…مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په تَوَجُّه سره به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خپل محفلونه په ذِکرِ عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره ښائسته کړئ

د مسلمانانو خوږه مور بي بي، صِدِّيقه بِنتِ صدِّيق حضرت عائشه صِدِّيقه، طَيِّبَه، طاهِره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھَا فرمائي: زَيِّنُوْا مَجَالِسَكُمْ بِذِكْرِ عُمَرَ خپل محفلونه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په ذِکر ښائسته کړئ![1]

ممکنه ده چې د خلقو په ذِهن کښې دا خيال راځي چې 200، 400 يا 1000 خلق راغونډ شوي وي نو هغې ته مجلس وئيلے شي، داسې نه ده. د مجلس معنٰـى ده: د کښيناستلو ځائے. که يو کَس يواځې ناست وي، دا هم مجلس دے، دوه کَسان ناست وي، دا هم مجلس دے، څلور کسان ناست وي، دا هم مجلس دے، 500 کسان راغونډ شوي وي يا 5000، دا هم مجلس دے. مطلب دا دے چې ❀ که تاسو يواځې ناست يئ، بيا هم



1…تاريخ دمشق، جلد:44، صفحه:380۔

www.dawateislami.net

ذِکرِ عمر کوئ! ❁ که د کور والوو سره ناست ئي بيا هم ذِکرِ عمر کوئ! ❁ که په دُکان کښې ناست ئي بيا هم ذِکرِ عمر کوئ! ❁ که په دفتر کښې ناست ئي بيا هم ذِکرِ عمر کوئ! ❁ که د ملګرو سره ناست ئي بيا هم ذِکرِ عمر کوئ! ❁ که په دسترخوان (د خوراک د پاره) ناست ئي بيا هم ذِکرِ عمر کوئ او ❁ که په ديني اجتماعاتو کښې ئي، بيا هم ذِکرِ عمر کوئ! غرض! خپل هر يو مجلس د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په ذِکر ښائسته کړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** داسې يو حديث شريف د دُرُود شريف په باره کښې هم راغلے دے، د الله پاک خوږ او آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: **زَيِّنُوْا مَجَالِسَكُمْ بِالصَّلَاةِ عَلَيَّ** خپل مجلسونه په ما باندې په درود شريف لوستو ښائسته کړئ![1]

ځکه بهتره دا ده چې کور کښې، دُکان کښې، دفتر کښې، د ملګرو سره چې کله کښينئ نو د خپل آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰــي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې درودِ پاك عرض کوئ او د دې درودِ پاك په ضمن کښې ذِکرِ صحابه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمۡ هم شاملوئ، د اهلِ بيتو ذِکر پکښې هم شاملوئ او خاص طور د خلفائے راشدين ذِکر هم شاملوئ، په هر مجلس کښې



1…جامع صغير، صفحه:280، حديث:4580۔

درود شريف لولئ، د صحابهٔ كرامو او اهلِ بيتو ذِكرِ خير پکښې كوئ نو
إِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هم زياتيږي او په
زړه كښې به د صحابهٔ كرامو او اهلِ بيتو عَلَيْهِمُ الرِّضوَان مَحَبَّت هم زياتيږي.
كه اوغواړئ نو داسې درود شريف اولولئ! اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى
آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ خُصُوصاً عَلٰى اَبِىْ بَكْرٍ وَّ عُمَرَ وَ عُثْمَانَ وَ عَلِىٍّ (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ)

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصْحاب و اہلِ بیت کا　　ہے خُدائے مصطفٰے اَصْحاب و اہلِ بیت کا
آل و اَصْحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ　　میں فقط ادنٰی گدا اَصْحاب و اہلِ بیت کا
میری جھولی میں نہ کیوں ہوں دوجہاں کی نعمتیں　　میں ہوں منگتا، میں گدا اَصْحاب و اہلِ بیت کا
کیوں ہو مایوس اے فقیرو! آؤ آکر لُوٹ لو　　ہے خزانہ بٹ رہا اَصْحاب و اہلِ بیت کا[1]

ہر صحابیٔ نبی! جنّتی جنّتی　　سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی
چار یارانِ نبی! جنّتی جنّتی　　حضرتِ صدیق بھی! جنّتی جنّتی
اور عمر فاروق بھی! جنّتی جنّتی　　عثمانِ غنی! جنّتی جنّتی
فاطمہ اور علی! جنّتی جنّتی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! راځئ! د خپلې خوږې محترمې مور
حضرت عائشې صديقې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا په مبارک فرمان عمل كوو او د ذِكرِ
فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كولو او اوريدو سعادت حاصلوو.



1…وسائل فردوس، صفحه:35۔

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مختصر تَعارُف

حضرت عُمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عظیم صحابـئ رسول دے ❁ په دنیا کښې د هغوئي نوم مبارک **عمر** دے ❁ په آسمانونو کښې هغوئي د **فاروق** په نوم پیژندلے شي ❁ په آسماني کتاب تورات شریف کښې د هغوئي نوم **مَنْطِقُ الْحَقْ** (یعني حق خبره کوونکے) دے ❁ په انجیل شریف کښې د هغوئي نوم **کافِي** دے ❁ او په جنّت کښې به د هغوئي نوم **اَقدس سِراج** وي.[1]

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په مکه مکرمه کښې دُنیا ته تشریف راوړلو، د یو روایت مطابق هغوئي د 39 سړو نه پس مسلمان شولو، ځکه هغوئي ته **مُتَمِّمُ الْاَرْبَعِین** (یعني د 40 عدد پوره کوونکے) وئیلے شي.[2] سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د ایمان راوړلو د پاره دُعا اوکړه، ځکه هغوئي **مرادِ رسول** هم دي.[3] د هغوئي عَدل و اِنصاف بے مثاله وو، ځکه هغوئي ته **اَعدَلُ الْاَصْحَاب** (یعني په صحابۂ کرامو کښې د ټولو نه زیات عدل کوونکے) وئیلے شو.[4]

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ 63 کاله په دنیا کښې تشریف فرما

323

1…الریاض النضرة، الباب الثانی، فی مناقب عمر بن خطاب، صفحه:235۔

2…معرفة الصحابة، باب الارقم بن ابی الارقم، جلد:1، صفحه:293 ملتقطاً۔

3…فیضانِ فاروقِ اعظم، جلد:1، صفحه:54۔

4…فیضانِ فاروقِ اعظم، جلد:1، صفحه:51۔

وو ❀ د 12 كالو پورې ئې په ښكلي انداز كښې د خلافت فرائض ترسره كړه[1] ❀ د هغوئي د خلافت دور د مسلمانانو د عُرُوج [يعني د ترقئ] دور وو ❀ د هغوئي د حكومت انداز ❀ د هغوئي عدل و اِنصاف ❀ د هغوئي مبارک اَخلاق و کردار ❀ د الله پاک نه ويره ❀ تقویٰ و پرهيزګاري ❀ عاجزي و انكساري ❀ زُهد ❀ رحم دلي وغيره د قيامت د ورځې پورې د مسلمانانو د پاره د ژوند تيرولو بهترينه نمونه ده.

بہارِ باغِ ایماں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں
چراغِ بزمِ عِرفاں حضرت فاروقِ اعظم ہیں
رسول اللہ نے فاروق کو اللہ سے مانگا
عطاءِ رَبِّ سُبحاں حضرت فاروقِ اعظم ہیں
نہ کیوں وہ ذات چمکے، جس نے دینِ پاک چمکایا
جہاں کے مہرِ تاباں حضرت فاروقِ اعظم ہیں[2]

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يو څو فضيلتونه

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! د حضرت عمرِ فاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فضيلتونه بے حده او بے شميره دي، يو ځل حضرت جبريلَ اَمين عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاهِ رِسالت كښې حاضِر وو، د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ذِکر اوشو، خوږ آقا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے جبريله! د عمر فضيلتونه او د الله پاک په نزد د هغوئي مقام او مرتبه بيان كړه! حضرت



1…الرياض النضرة، الباب الثانى، فى مناقب عمر بن خطاب، صفحه:357بتغير قليل۔

2…ديوانِ سالک، صفحه:7473۔

www.dawateislami.net

جبريلِ اَمين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: لَوْجَلَسْتُ مَعَكَ قَدْرَ مَا لَبِثَ نُوحٌ فِي قَوْمِهٖ لَمْ اَسْتَطِعْ اَنْ اُخْبِرَكَ بِفَضَائِلِ عُمَرَ وَمَا لَهٗ عِنْدَ اللّٰهِ يعني يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام چې خومره عمر وو، كه چرې زه هغه همره موده هم ستاسو په خدمت كښې كښينم او د عمرِ فارق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلتونه بيانووم بيا هم زه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلتونه او د الله پاک په دربار كښې د هغوئي مقام او مرتبه پوره نشم بيانولے.[1]

اَللّٰهُ اَكْبَرْ! اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! غور اوكړئ! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلتونه بيانوونكے يو عام كَس نه دے بلكه د فرښتو سردار حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام دے او فضيلتونه اوريدونكے څوک عامه هستي نه ده بلكه د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، د دې باوُجُود جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض كوي چې كه چرې زه د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د عمر همره موده هم (د هغوئي فضيلتونه) بيان كړم، يعني د 1000 كالو نه هم زياته موده د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلتونه بيانووم نو بيا به هم پوره فضيلتونه بيان نكړے شم. د دې نه اندازه اولګوئ! چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلتونه خومره ډير دي.



1...الرياض النضرة، الباب الثانى فى مناقب عمر، صفحه:273۔

www.dawateislami.net

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره د محبت کولو فضیلت

اے عاشقانِ رَسُول! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فاروقِ اعظم دے، د هغوئي خو څه ښکلے ښائسته شان دے، څوک چې د هغوئي سره محبت کوي، هغوئي هم ښائسته شان والا کیږي. د صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روایت دے چې د مدینے سردار، خوږ آقا صَلَّى اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: مَنْ اَحَبَّ عُمَرَ عُمِّرَ قَلْبُهٗ بِالْاِيْمَانِ یعني څوک چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره محبت اوکړي د هغه زړه د ایمان نه ډکولے شي.[1]

بھٹک سکتا نہیں ہر گز کبھی وہ سیدھے رستے سے　　کرم جس بَخت‌وَر پر ہو گیا فاروقِ اعظم کا[2]

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره محبت د رشک قابل دولت دے

اے عاشقانِ صحابۂ کرام او اهلِ بیت! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره محبت څه عام څیز نه دے، دا د رشک قابل دولت دے. ټولو صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به په خپل مینځ کښې د یو بل سره محبت کولو خو د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره محبت هغه محبت دے چې صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به په دې محبت باندې فخر کولو.

323

1…الرياض النضرة، الباب الثاني في مناقب عمر، ذكر الحث على محبته، صفحه:275۔

2…وسائل بخشش، صفحه:527۔

حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل يو کَس په بارګاهِ رِسالت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: مَتَى السَّاعَةُ؟ يعني يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! قيامت به کله راځي؟

(يقيناً زمونږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰـى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د قيامت عِلم شته، هغوئي ته معلومه وه چې قيامت به کله راځي، ځکه خو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت نښې بيان کړې، قيامت به کله راځي، دا ئې هم اووئيل، په کوم تاريخ به راځي، دا ئې هم اووئيل. آؤ! صرف کال ئې اونه ښودلو، ځکه چې د کال ښودلو اجازت نه وو، نو صحابـئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې کله پوښتنه اوکړه چې قيامت به کله راځي؟ نو) هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې جواب ورکولو په ځائے اوفرمائيل: وَمَا ذَا اَعْدَدْتَ لَهَا؟ تا د قيامت د پاره څه تياري کړې ده؟

(صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به يقيناً چې لمُونځونه هم کول، تلاوت به ئې هم کولو، روژې به ئې هم نيولې، د نيکو د پاسه به ئې نورې نيکۍ هم کولې خو د صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مبارک انداز دے، هغوئي په يوه نيکۍ باور اونکړو، بلکه) عرض ئې اوکړو: لَا شَيْءَ يعني يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما هيڅ تياري نه ده کړې.

(لمُونځونه خو دي، نيکۍ خو دي خو په دې باور نشته، که الله پاک اوغواړي نو قبولې به ئې کړي، که نه غواړي نو نه به ئې قبلوي) اِلَّا اَنِّيْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

البته زما سره يو دولت دے او د قيامت د پاره زما سره دغه يوه سهارا ده او هغه دا ده چې زه د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت کووم.

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو اوئې فرمائيل: اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ يعني ته چې د چا سره محبت کوې، د قيامت په ورځ به د هغه سره ئې.

پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا؟ میں یہ کہوں گا، نامِ محمد ﷺ[1]

حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې صحابـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته کوم زيرے واورولو، مونږه چې په دې زيري خومره خوشحاله شو، دومره په يو څيز هم نه وو خوشحاله شوي. نور فرمائي: فَاَنَا اُحِبُّ النَّبِيَّ ﷺ وَ اَبَا بَكْرٍ وَّ عُمَرَ وَاَرْجُوْ اَنْ اَكُوْنَ مَعَهُمْ بِحُبِّيْ اِيَّاهُمْ وَاِنْ لَّمْ اَعْمَلْ بِمِثْلِ اَعْمَالِهِمْ يعني د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مرتبه زما نه ډيره زياته اوچته ده، زما سره د حضرت ابو بکـر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان نيکئ هم نشته، زما سره د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان اعمال هم نشته خو زه د الله پاک د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره هم محبت کووم، د ابو بکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره هم محبت کووم،



1…قبالۂ بخشش، صفحه:135۔

www.dawateislami.net

زما په زړه کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مينې ډيوه هم بَله ده، ځکه زما اُمّيد دے چې د قيامت په ورځ به د دې حضراتو ګاؤنډ مونډلو کښې کامياب شم.[1]

د صحابۀ کرامو او اَهلِ بيتو عاشق، شيخ طريقت، اَميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په وسائلِ بخشش کښې ليکي:

خُدا کے فَضل سے میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا خدا اُن کا مُحَمَّد مصطفٰے فاروقِ اعظم کا

کرم اللہ کا ہر دَم نبی کی مجھ پہ رَحمت ہے مجھے ہے دو جہاں میں آسرا فاروقِ اعظم کا

رہے تیری عطا سے یاخُدا! تیری عنایت سے ہمارے ہاتھ میں دامن سدا فاروقِ اعظم کا[2]

ہر صحابیٔ نبی! جنّتی جنّتی سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی

چار یارانِ نبی! جنّتی جنّتی حضرتِ صدیق بھی! جنّتی جنّتی

اور عمر فاروق بھی! جنّتی جنّتی عثمانِ غنی! جنّتی جنّتی

فاطِمہ اور علی! جنّتی جنّتی

## آسماني کتابونه او فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د صحابۀ کرامو عَلَیہِمُ الرِّضوَان ځان له اعلٰی شان دے، اوګورئ! مونږ چې لا دُنيا ته راغلي هم نه وو، هغه



1…بخاری، کتاب فضائل الصحابة، باب مناقب عمر بن الخطاب، صفحه:934، حديث:3688۔

2…وسائل بخشش، صفحه:526۔

وخت مونږ چا هم نه پیژندلو، مونږ چا په خوب کښې هم نه وو لیدلي، بیا چې کله مونږه دنیا ته راغلو، نو بیا هم کور والؤ، خپلو خپلوانو او یوڅو محلے والوو مونږه پیژندلو، اوس چې کله مونږه لوئ شو، اوس هم مونږه لږ شان خلق پیژني، څوک به سوؤنه خلق پیژني، څوک به زرګونه یا لکونه خلق پیژني خو قربان شم! د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان څومره اعلٰـی شان دے، دې حضراتو لا دنیا ته تشریف راوړے هم نه وو، د هغې نه په سوؤنو کاله وړاندې د هغوئي ذِکر په دُنیا کښې موجود وو، خلقو هغوئي پیژندل هم، او د هغوئي ذِکرِ خیر ئې هم کولو او دا ذِکر هم څه عام ذِکر نه وو بلکه د الله پاک په کلام کښې د صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان ذِکرِ خیر باقاعده طور تلاوت کیدلو او خلقو به د ثواب په اُمّید د هغوئي ذِکرِ خیر کولو.

الله پاک په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا٘ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ

مفهوم ترجَمه کنزُ الایمان: مُحَمَّد د الله رَسُول دے او د هغوئي ملګري په کافرانو سخت دي او خپل مینځ کښې نرم زړه والا [دي] تاسو به هغوئي وینئ رکوع کولو او په سجده کښې پریوتي، د الله فضل او رضا

مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ غوښتونکـي د هغوئي نښې د هغوئي په مخونو کښې دي د سجدو د نښو نه. (پارہ:26،سورۂ فتح:29)

په دې آيتِ کريمه کښې الله پاک د صحابۀ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان پيژندګلو کړې ده چې زما د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرام څوک دي؟ دا هغه خلق دي: (1) څوک چې په کافرانو ډير سخت دي (2) خپل مينځ کښې ډير نرم زړه والا دي (3) دوئي ډير لمُونځونه کوي، کله سجدې کوي، کله رکوع کوي (4) او دوئي ريا نه کوي، بل چا ته د ښودلو د پاره عبادت نه کوي بلکه د هغوئي مقصد صِرف او صِرف د الله پاک فضل او د هغه رضا ده (5) صحابۀ کرام عَلیھِمُ الرِّضوَان هغه هستياني دي چې د هغوئي په مخونو د سجدو نښې او د عبادت نُور په نظر راځي.

الله پاک د صحابۀ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان د دې پاکو صفتونو بيانولو نه پس اوفرمائيل:

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚۖ وَ مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚۛ مفهوم ترجَمه کنزُالایمان: دا د هغوئي صفت په تورات کښې او د هغوئي صفت په انجيل کښې [دے]. (پارہ:26،سورۂ فتح:29)

الله! الله! د صحابۀ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان دا ټول صفتونه په تورات شريف کښې ليکلے شوي دي او په انجيل شريف کښې هم ليکلے شوي دي.

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه! چې صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضوَان لا دُنیا ته راغلي هم نه وو، د هغې نه مخکښې په دُنیا کښې د هغوئي خبرې کیدلې، خلقو چې به کله د تورات شریف تلاوت کولو، د انجیل شریف تلاوت کولو، په دغه تلاوت کښې به د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضوَان ذِکرِ خیر هم وو او خلقو به په دې د ثواب اُمّید هم ساتلو. **یاد ساتئ!** په مخکښینو آسماني کتابونو کښې خلقو د خپلې خوښې مطابق تحریف (یعني بدلون) کړے وو، ځکه هغه آسماني کتابونه لوستل اوس صحیح نه دي. البته د خلقو د تحریفاتو [یعني بدلون] باوُجُود په هغه کتابونو کښې د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضوَان ذِکر موجود وو.

ہر صحابئِ نبی! جنّتی جنّتی
سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی
چار یارانِ نبی! جنّتی جنّتی
حضرتِ صدیق بھی! جنّتی جنّتی
اور عمر فاروق بھی! جنّتی جنّتی
عثمانِ غنی! جنّتی جنّتی
فاطمہ اور علی! جنّتی جنّتی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دیني احکامو په نافذ کولو کښې سختي کوونکے حاکِم

یو ځل د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ

د يو پادري نه پوښتنه اوکړه: هَلْ تَجِدُوْنَا فِيْ شَيْءٍ مِّنْ كُتُبِكُمْ يعني آيا ستاسو په كتابونو كښې زمونږ په باره كښې څه ليكلے شوي دي؟ پادري په آؤ كښې جواب وركړو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه اوكړه: كَيْفَ تَجِدُوْنِيْ مونږ په خپلو كتابونو كښې څنګه بيامومئ؟ پادري اووئيل: قَرْنٌ مِّنْ حَدِيْدٍ يعني زمونږ په كتابونو كښې ليكلے شوي دي چې تاسو د اوسپنې ښكر ئې. هغوئې رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: د اوسپنې ښكر! د دې څه مطلب دے؟ پادري اووئيل: اَمِيْرٌ شَدِيْدٌ يعني (ديني احكام نافذولو كښې) سختئ كوونكے حاكِم . په دې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله پاک شكر ادا كړو او اوئې فرمائيل: الله پاک د ټولو نه لوئ دے، ټول تعريفونه د هغه د پاره دي.[1]

## د نجران والوؤ ګواهي

يو ځل اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په آس سور وو او چرته روان وو، ناڅاپه د هغوئې د پنډېٔ مباركې نه كپړه لرې شوه، اتفاقي خبره ده چې هغه وخت نجران والا (څوک چې كافران وو، هغوئې) كښې د چا نظر د هغوئې رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په پنډېٔ مباركه پريوتو، په هغې توره نښه وه، په دې نجران والؤ اووئيل: هٰذَا الَّذِیْ نَجِدُ فِیْ كِتَابِنَا يُخْرِجُنَا مِنْ اَرْضِنَا

323

1…مناقب امير المؤمنين عمر بن الخطاب لابن الجوزى، الباب الرابع، فى صفة فى التوراة، صفحه:15۔

يعني دا هغه ګس دے د چا په باره کښې چې زمونږ په کتابونو کښې ليکلي دي چې دوئي به مونږ ه زمونږ د زمکو نه اوباسي.[1]

اَللّٰهُ اکبر! اے عاشقانِ صحابهٔ کرامو او اهلِ بيت! تاسو اوکتل! په مخکښنيو آسماني کتابونو کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ذِکرِ خير ښومره په تفصيل سره موجود وو، کافِرانو صِرف د هغوئي په پنډئ مبارکه توره نښه اوليدله، د هغې نه هغوئي حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اوپيژندلو.

## بَيتُ المُقَدَّس ښنګه فتح شو...؟

بَيْتُ الْمُقَدَّس کوم چې ډير مبارک ښار دے، دا په وړومبي ځل د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په دورِ خِلافت کښې فتح شو، د دې د فتح کولو واقعه ډيره حيرانيدونکې ده، داسې اوشو چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حضرت ابو عُبَيدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د فوج مشر جوړ کړو او يو لښکر ئې ورته ورکړو او بَيْتُ الْمُقَدَّس ته ئې روان کړو، حضرت ابو عبيده بن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د لښکر سره بَيْتُ الْمُقَدَّس ته اورسيدلو، د کافِرانو د قلعے محاصَره (يعني ګيره) ئې اوکړه، تقريباً 4 مياشتے دا جنګ روان وو خو هيڅ نتيجه ئې رانغله.



1...مجمع الزوائد، باب مناقب عمر بن الخطاب، باب في صفة، جلد:9، صفحه:32، حديث:14400۔

www.dawateislami.net

**بَیْتُ الْمُقَدَّس** کښې د کافِرانو یو لوئ راهِب وو، یوه ورځ هغه راهِب د قلعې دیوال ته اوختلو او حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللہُ عَنْهُ ئې مخاطَب کړو او اوئې وئیل: مونږه به په هر حال کښې ستاسو سره جنګ کوو، زمونږ ښار صِرف یو کَس فتح کولے شي، د هغوئې صفتونه زمونږ په کتابونو کښې لیکلے شوي دي، تاسو هغه نه ئې.

حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللہُ عَنْهُ اوفرمائیل: هغه به څوک وي؟ ستاسو په کتابونو کښې د هغوئې څه صفتونه لیکلے شوي دي؟ راهِب اووئیل: هغه به د **مُحَمَّد** (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) اُمّتي وي، د هغه نوم به **عمر بن خطّاب** وي، خلق به هغوئې ته **فاروق** وائي، د دین په مُعامَله کښې به ډیر سخت وي، د الله پاک په مُعَامَله کښې به د خلقو د ملامتیا پرواه نه کوي.

حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د راهِب د دې خبرې اوریدلو سره مُسکے شو او د خوشحالئ نه ئې اوفرمائیل: فَتَحْنَا الْبَلَدَ وَ رَبِّ الْکَعْبَةِ د کعبې په رَبّ مې دې قسم وي! مونږه دا ښار فتح کړو. بیا حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللہُ عَنْهُ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ ته خط اولیکلو او **بَیْتُ الْمُقَدَّس** ته ئې د راتلو عرض اوکړو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ تشریف راوړلو، هغه نصراني راهب حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د لیدلو سره سم اوپیژندلو او هغه خپل قوم ته اووئیل: اے

خلقو! دا هغه (کَس) دے، د چا ذِکر چې زمونږ په کتابونو کښې دے، دا به زمونږه ښار فتح کړي.

بیا هغه کافِرانو د جنګ نه بغیر بَیْتُ الْمُقَدَّس حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته حواله کړو.[1]

فارقِ حق و باطل امامُ الہُدیٰ　　تیغِ مَسْلُولِ شدت پہ لاکھوں سلام

**وضاحت:** حق د باطل نه جُدا کوونکے او هدایت ورکوونکے امامِ بَرحق حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هغه تورې په شان دے کومه چې د اسلام په حمایت کښې په سختئ سره اوچتولے شي، په هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دې ډیر ډیر سلام وي.

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مسلمانانو رحیم او کریم دے

حضرت کعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ډیر د اوچتې مرتبے تابعي دے. کله چې بَیْتُ الْمُقَدَّس فتح شو، هغه وخت د حضرت کعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره وړومبے ملاقات اوشو، هغه وخت حضرت کعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کلمه اووئیله او اسلام ئي قبول کړو.[2] او په دې موقع حضرت کعب الاَحبَار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اووئیل چې د الله



1…فتوح الشام، ذکر فتح مدینة بیت المقدس، جلد:1، صفحه:232225223ملتقطاً۔

2…فتوح الشام، ذکر مدینة بیت المقدس، جلد:1، صفحه:233خلاصةً۔

پاک په کتاب کښې ليک دي: داسې ښارونه په کومو کښې چې به بني اسرائيل اوسيږي، هغه به د يو داسې کَس په لاس فتح کيږي ۞ کوم چې به نيک وي ۞ په مسلمانانو به رحم کوونکے او د کافِرانو د پاره به دردناک عذاب وي ۞ د هغه ظاهر او باطن به يو شان وي، د هغه په قول او فعل کښې به تضاد [يعني مُخالَفَت] نه وي ۞ خپل او پردي ټول به د هغه په نظر کښې برابر وي ۞ د هغه ملګري به په شپو کښې عبادت کوونکي ۞ د ورځې روژه نيوونکي او ۞ د خلقو غمخواران وي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ صحابۂ کرام او اهلِ بيت! دا ټول صفتونه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بيانيدل ۞ هغوئي نيک هم دے ۞ په مسلمانانو باندې رحم کوونکے هم دے ۞ عدل و انصاف کوونکے هم دے او ۞ هم هغوئي هغه هستي ده چا چې د کافرانو ښارونه فتح کړل ۞ تر دې پورې چې د قيصر و کِسریٰ په محلونو ئې هم د اِسلام جنډه اولګوله.

| | |
|---|---|
| اَشِدَّاءُعَلَی الْکُفَّار کے مصداقِ اَعلیٰ ہیں | مُذِلِّ کُفر و طُغیاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں |
| وہ عالَم دَبدبہ کا کانپتے ہیں قیصر و کسریٰ | ہے جن سے دین کی شاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں[2] |

**وضاحت**: په قرآنِ پاک کښې الله پاک د صحابۂ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان يو صفت

323

1…الرياض النضرة، الباب الثانی، الفصل التاسع، ذکر نبذة من فضائله، صفحه:274۔

2…ديوانِ سالک، صفحه:7573۔

دا بيان کړے دے: اَشِدَّآءُعَلَی الْکُفَّار دوئي په کافِرانو ډير سخت دي، دا آيت مبارکه د ټولو نه اوّل په حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ صادق راځي، هغوئي کُفر و سرکشئ ذليل کوونکي دي، د هغوئي د رعب او دبدبے دا حالت دے چې د هغوئي د نوم نه د روم او ايران بادشاهان ويرېږي، د چا په وجه چې اسلام ته دومره شان و شوکت نصيب شو د هغوئي نوم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے.

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دوزخ نه رکاوټ دے

حضرت اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږه نمسئ يعني د سيّده فاطمة الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا شهزادګئ ده، هغوئي د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بي بي وه، يوه ورځ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوليدل چې حضرت اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللہُ عَنْہَا ډيره ژاړي، هغوئي د ژړا وجه اوپوښتله نو بي بي محترمې اووئيل: اے اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن! کعبُ الاَحبَار وائي چې تاسو د دوزخ په دروازه باندې ئې.

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې دا واوريدل نو په هغوئي د الله پاک ويره راغله، هغوئي فوراً حضرت کعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ را اوغوښتلو. حضرت کعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حاضر شولو او عرض ئې اوکړو: اے اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن! په ما تادي مه کوئ! په الله پاک مې دې قسم وي! د ذُوالحج مياشتې ختميدو سره به تاسو جَنَّت ته تشريف يوسئ.

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې دا خبره واوريدله نو په حيرانتيا سره ئې اوفرمائيل: اَيَّ شَيْءٍ هٰذَا مَرَّةً فِي الْجَنَّةِ وَمَرَّةً فِي النَّارِ؟ يعني اے كعب! دا څه خبره شوه...؟؟ كله وائې چې زه د دوزخ په دروازه يم او كله وائې چې زه جنّتي يم؟ حضرت كعب رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ عرض اوكړو: وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ! اِنَّا لَنَجِدُكَ فِىْ كِتَابِ اللّٰهِ عَلٰى بَابٍ مِّنْ اَبْوَابِ جَهَنَّمَ تَمْنَعُ النَّاسَ اَنْ يَقْعُوْا فِيْهَا، فَاِذَا مِتَّ لَمْ يَزَالُوْا يَقْتَحِمُوْنَ فِيْهَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ يعني اے اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن! په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضه كښې چې زما ځان دے! مونږ د الله پاک په كتاب كښې لوستلي دي چې تاسو د دوزخ په دروازه ئې او خلق دوزخ ته د پريوتو نه منع كوئ، كله چې تاسو د دُنيا نه تشريف يوسئ نو خلق به تر قيامته پورې دوزخ ته غورزيږي.[1]

بھٹک سکتا نہیں ہرگز کبھی وہ سیدھے رستے سے
کرم جس بخت ور پر ہو گیا فاروقِ اعظم کا

خُدا کی خاص رحمت سے، مُحَمَّد کی عنایت سے
جہنّم میں نہ جائے گا، گدا فاروقِ اعظم[2]

## پاڅه! اے د دوزخ د تالې څويه...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د داسې مفهوم يو بل روايت هم دے، حضرت عبدُالله بن سلام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ كوم چې د ډيرې اوچتې مرتبې صحابئ



1…کنز العمال، کتاب الفضائل، جز:12، جلد:6، صفحه:256، حديث:35782۔

2…وسائل بخشش، صفحه:527۔

رسول دے، هغوئي د اسلام قبلولو نه مخکښې د تورات شريف ډير لوئ عالم وو، يو ځل هغوئي اوليدل چې يو ګس په ځان ځادر راخور کړے دے او اوده دے، هغوئي هغه د ښپې نه وَرَګَوَلو او اوئې وئيل: څوک ئې؟ اوده ګس پاڅيدو او اوئې وئيل: دأَمِيرُ الْمُؤمِنِين (يعني د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) ځوي عبدُ الله بن عمر يم. په دې حضرت عبدُ الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: **قُمْ يَا ابْنَ قُفْلِ جَهَنَّم** يعني اے د دوزخ د تالې ځويه! پاڅه!

د خپل والِدِ محترم په باره کښې د داسې الفاظو اوريدلو سره حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ له ډيره غُصّه ورغله، هغوئي سيدها د خپل والِدِ محترم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خِدمت کښې حاضِر شولو او اوئې وئيل: بابا جانه! عبدُ الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تاسو ته **د دوزخ تالا** وائي. حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې دا واوريدل نو هغوئي هم ډير حيران شو، هغوئي فوراً د حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خوا له تشريف يوړلو او پوښتنه ئې اوکړه: اے ابنِ سلام! معلومه شوې ده چې تاسو ما ته د دوزخ تالا وائې؟ حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اووئيل: آؤ جي! وايم. اوئې پوښتل: تاسو ته څنګه معلومه شوه چې زه دوزخي يم؟ حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: **مَعَاذَ الله**! ما تاسو ته دوزخي نه دي وئيلي بلکه **د دوزخ تالا** مې وئيلې ده، ما ته زما والِد روايت

اورولے وو چې د الله پاک نبـي حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام ته اوفرمائيل: ۞ د محمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) په اُمّت کښې به يو کَس وي، هغه ته به خلق عمر بن خطّاب وائي ۞ هغه به د ټولو نه بهترين دين والا وي ۞ د هغه يقين به ډير پوخ وي، تر خو چې هغه په دُنيا کښې وي د هغه دين به غالِب وي ۞ خلق به د الله پاک رسۍ مضبوطه نيسي ۞ دوزخ ته به تالې پرتې وي ۞ كله چې عمر د دُنيا نه لاړ شي نو يقين به کمزورے شي ۞ د نيکانو خلقو ژوند به کم شي ۞ خلق به په فِرقو [يعني ډلو] کښې تقسيم شي ۞ بيا به د دوزخ تالې بيرته کړے شي او خلق به په هغې کښې غورزيږي.[1]

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِسلام له عزّت ورکړو

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ صحابهٔ کرام او اهلِ بيت! خومره ښکلے اعلٰـى شان دے، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لا دُنيا ته تشريف راوړے هم نه وو، د دې نه مخکښې چې به خلقو د تيرو آسماني کتابونو تلاوت کولو، د آسماني کتابونو عالِمَان وو، د مخکښينو نبيانو په ارشاداتو پوهيدل، هغوئي ته معلومه وه چې اُمّتِ مُصطفٰى کښې به يو کَس وي ۞ د هغه نوم به عمر بن خطّاب وي ۞ د هغه دين به بهتر او يقين ډير پوخ وي ۞ تر خو چې هغوئي په دُنيا کښې وي، دين به غالب وي، خلق به د دوزخ نه بچ کيږي



1…تاريخ دمشق، جلد:44، صفحه:334۔

www.dawateislami.net

او کله چې هغوئي د دُنيا نه لاړ شي نو د دوزخ تالې به بيرته کړے شي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دلته لږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا اثر هم اوګورئ! د الله پاک محبوب نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا کړې وه: **اَللّٰهُمَّ اَعِزِّ الْاِسْلَامَ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّاب** اے الله پاکه! د عمر بن خطّاب په ذريعه اسلام له عزّت ورکړې.[1]

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دغې دُعا برکت وو چې په کومه ورځ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبول کړو، په هغه ورځ مسلمانانو د خوشحالئ نه د **اَللّٰهُ اکبر** نعره اولګوله، کومه چې مکه مکرمه کښې تر لرې لرې پورې واوريدے شوه، په هغه ورځ مسلمانانو په وړومې ځل مسجدِ حرام کښې اعلانيه [يعني ښکاره] لمُونځ ادا کړو، د هغې ورځ نه واخله تر د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وصالِ ظاهِري پورې د اسلام عزّتونه د اوچتو نه اوچت شول، اسلام تر لرې لرې پورې خور شو، د عدل و انصاف بے مثاله نظام قائم شو او د کافِرانو په محلونو باندې هم د اسلام جنډې اولګولے شوې.

**اے عاشقانِ رَسُول!** دا دے د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا اثر...!!

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې تر څو پورې په دُنيا کښې وو، د



1…ابن ماجه، فضل عمر رَضِيَ اللهُ عنه ، صفحه:31، حديث:105 ـ

www.dawateislami.net

اسلام عزّت د اوچتو نه اوچت شو خو آه! چې کله د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وِصال اوشو، هغوئي د دُنيا نه پرده اوفرمائيله، نو هغه وخت د فتنو دَور شروع شو.

## حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د فتنو تالا ده

يو ځل د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ملاقات اوشو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د حضرت ابوذر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره لاس ميلاؤ کړو او په مينه ئې د هغوئي لاس مبارک له زور ورکړو، په دې حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اووئيل: دَعْ يَدِيْ يَا قُفْلَ الْفِتْنَةِ يعني اے د فتنې تالے! زما لاس پرېږده. چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دې د وضاحت پوښتنه اوکړه نو حضرت ابوذر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اووئيل: يوه ورځ د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو اوليدلئ نو اوئې فرمائيل: لَا تُصِيْبُكُمْ فِتْنَةٌ مَّا دَامَ هٰذَا فِيْكُمْ يعني چې تر څو دا (يعني حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ) په تاسو کښې موجود دے، نو تاسو ته به يوه فتنه هم نه را رسي.[1]

## اِهلِ اِسلام به د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په وفات ژاړي

يوه ورځ حضرت جبريلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام په بارګاهِ رسالت کښې حاضر



1…تاريخ دمشق، جلد:44، صفحه:334۔

www.dawateislami.net

وو، د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکرِ خیر اوشو، په دې حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: لَيَبْكِيَنَّ الْاِسْلَامُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِكَ عَلٰى مَوْتِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يعني يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اهلِ اِسلام به دوه ځله ژاړي، يو ځل هغه وخت چې کله تاسو د دُنيا نه پرده اوفرمائې او په دويم ځل هله چې کله د حضرت عمر فاروقِ اعظم (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ) وِصال اوشي.[1]

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلام مضبوطه قلعه

حضرت زيد بن وَهب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ مونږ د صحابئ رسول حضرت عبدُالله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خدمت کښې حاضر وو، د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکرِ خير اوشو، د هغوئي نوم اوريدو سره حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په ژړا شولو، تر دې پورې چې د هغوئي په اوښکو پزکے [يعني انډيرے] لوند شو. بيا هغوئي اوفرمائيل: بيشکه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اسلام د پاره مضبوطه قلعه وه، په کومه کښې چې خلق خو ننوتلے شو خو وتلے ترې نشو. آه! ځنګه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفات شو، خلق د اسلام نه بهر وتل شروع شو.[2]



1…الرياض النضرة، الباب الثانی، الفصل التاسع، ذکر نبذة من فضائله، صفحه:273۔

2…طبقات الکبری، ذکر استخلاف عمر، جلد:3، صفحه:283۔

www.dawateislami.net

## نن اسلام کمزورے شو

په کومه ورځ چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفات شو، په هغه ورځ د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضاعي (یعني پـئ ورکوونکـي) مور بـي بـي حضرت اُمِّ اَیمن رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا اوفرمائیل: **اَلْیَوْمَ وَهِیَ الْاِسْلَامُ** یعني نن اِسلام کمزورے شو.[1]

بہارِ باغِ ایماں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں | چراغِ بزمِ عرفاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں
عمر عامر ہیں دیں کے حق تعالیٰ ان کا ناصر ہے | دِلِ مومن کے تاباں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں[2]

**وضاحت:** یعني د ایمان د باغ سپرلے او د معرفت د محفل ډیوه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دہ، او د الله پاک په مدد سره د اسلام عمر زیاتوونکے او د مؤمن زړه روښانه کوونکے حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے.

## اے محشر والوؤ! دا عمر دے...!!

د حضرت عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، د قیامت په ورځ به چې کله حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د الله پاک په بارګاه کښې حاضر وي، هغه وخت به اِسلام عرض کوي: **یَا رَبِّ هٰذَا عُمَرُ اَعَزَّنِیْ فِیْ دَارِ**



1…معجم کبیر، جلد:25، صفحه:86، حدیث:221۔

2…دیوانِ سالک، صفحه:7573۔

www.dawateislami.net

**الدُّنْيَا فَاَعِزُّهُ فِیْ عَرَصَاتِ الْقِيَامَةِ** يعني اے رحمان و رحيم رَبَّه! **دا عمر دے**، ده په دُنيا کښې زما عِزَّت اوچت کړو، نن د قيامت په ورځ ته ده له عِزَّت ورکړې.

د دې سره به حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته دوه جبے [يعني چغے] ور واغوستے شي، د هغې جبو خوشبو به داسې وي چې که چرې په هغې کښې د يوې خوشبو دُنيا ته راپرانستے شي نو ټوله دُنيا به د هغې په خوشبو مُعَطَّره شي. حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به په نوراني اوښه کښينولے شي، د هغوئي مخے ته به اويا زره جنډې خوزولے شي، په دغه وخت به د حشر په ميدان کښې يو آواز کيږي: **يٰاَهْلَ الْمَوْقَفِ هٰذَا عُمَرُ فَاعْرِفُوْهُ** اے حشر والوؤ! دا عمر دے، دوئي اوپيژنئ...![1]

**اے عاشقانِ صحابۂ کرام او اهلِ بيت!** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې تر څو پورې په دُنيا کښې وو، د اسلام د سر بُلندئ د پاره ئې کوشش کولو ۞ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په جنګونو کښې هم شريک شو ۞ سر په تلي کښې کيښودلو سره د اسلام په خاطر اوجنګيدو ۞ د اسلام د سر بُلندئ د پاره ئې په ځان سختئ هم تيرې کړې ۞ په دنيا کښې د عدل نظام جوړ شو، د هغې د پاره هغوئي لوږه هم تيره کړه ۞ تقريباً د نيمې دُنيا رُعب لرونکي خليفه کيدو باوُجود



1...الرياض النضرة، الباب الثانی، الفصل التاسع، ذکر نبذة من فضائله، صفحه: 274۔

www.dawateislami.net

هغوئي پيوند لګيدلي جامې واغوستلې ۞ قربانئ ئې ورکړې ۞ سختې ئې تيرې کړې ۞ خپل خواهشونه ئې زير کړه او هميشه ئې اسلام ته سر بُلندي ورکړه.

په دې کښې زمونږ د پاره سبق دے، آه! مونږ د خپلو خواهشاتو پوره کولو په خاطِر، د خپل آرام د پاره، د اسلام د سر بُلندئ پرواه نه کوو، زمونږه کردار چې اووينې نو کافران زمونږ د اسلام نه نفرت شروع کړي، آه! د دُنيا محبت، د مال و دولت حِرص، د خپلې اَنا د پاره، د ذات پات په نوم بے ځايه جنګ جګړې، قتل، دوکه، دروغ، بهتان لګول، دوکه ورکول، غرض هغه کوم يو بد کار دے کوم چې نن د مسلمانانو په کردار کښې نه ميلاويږي...!!

**ياد ساتئ!** زمونږه منفي کردار صِرف زمونږ د پاره نه، د اللّٰه پاک د پاک دين، دينِ اِسلام په حق کښې نقصان رسوونکے دے، خلق زمونږ د مسلمانانو ليدو سره د اسلام تصوير په خپلو ذهنونو کښې کښينوي.

## د يو انګريز مُفَکِّر عبرتناک جواب

شيخُ الحديث، حضرت علّامه عبدُ المُصطفٰی اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته د يو انګريز مُفَکِّر خبره بيا بيا رايادېږي، هغه ته يو مسلمان اووئيل: ته صاحبِ نظر (يعني عقل مند) ئې، بيا ولې نه مسلمانيږې؟ په دې انګريز داسې عبرتناک جواب ورکړو چې د هغې په اوريدو سره به د هر

غيرت مند مسلمان په تندي د پښيمانئ خوَله راشي. هغه اووئيل: زه چې کله هغه اسلام ته ګورم کوم چې په اسلامي کتابونو کښې ليکلے دے نو په زړه کښې مې د اسلام حقّانيت ځائے جوړ کړي خو چې کله هغه اسلام ته اوګورم په کوم چې د نن سبا مسلمان عمل کوي نو زما په زړه کښې د اسلام نه ډير نفرت پيدا شي.[1]

بَن گئے تنکے نشیمن کے قفس کی تیلیاں | بَن گیا کیا؟ ہم چلے تھے کیا بنانے کے لئے

**وضاحت:** کور جوړول وو، قيد خانه جوړه شوه، مونږه څه جوړ کړه؟ او څه جوړ شو؟ مطلب دا دے چې مونږه د اُلټا لارې مُسَافر شو، پکار خو دا وه چې مونږه د نورو د پاره د ژوند نمونه جوړ شوي وے، زمونږ په وجه اسلام ته ترقي ميلاؤ شوې وے خو د دې اُلټا اوشو، خلق زمونږ په وجه د اسلام نه نفرت کوي.

**اے عاشقانِ رَسُول!** مونږ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ذِکرِ خير واوريدو، هغوئي ټول ژوند د اسلام د سر بُلندئ د پاره تير کړو، راځئ! چې مونږه هم د زړه نه د دُنيا مَحَبَّت اوباسو ۞ د مال و دولت د حِرص نه ځان خلاص کړو ۞ ذاتي جنګ جګړې ختمې کړو او ټول يو موټے شو ۞ په اِتفاق و اِتحاد سره ټول عاشقانِ رسول په شريکه د دين خِدمت اوکړو ۞ مونږه خپل کردار د دين مطابق جوړ کړو



1…عرفانی تقریریں، بیان: زوال کے اسباب، صفحہ:101بتغیر قلیل۔

www.dawateislami.net

۞ خپل كارونه د دين او شريعت مطابق جوړ كړو ۞ خپل چال چلن بدل كړو ۞ خپل ژوند د اسلامي اُصُولو مطابق جوړ كړو ۞ راځئ! چې د سُنّتو ژوندے تصوير جوړ شو ۞ په سر مو عمامه [يعني پټكے] وي ۞ په مخ مو ږيره وي ۞ په ژبه رښتيا وايو ۞ په كردار كښې امانت داري ۞ همدردي ۞ رحم دلي ۞ عدل و انصاف وي ۞ په زړه كښې د الله او د رسول محبَّت وي ۞ اِخلاص وي، داسې مونږه پاک ژوند تير كړو، يخپله هم ځان نيک جوړ كړو او د نورو د ترغيب سامان هم جوړ شو.

عمل كا ہو جذبہ عطا يا الٰہی! گُناہوں سے مجھ كو بچا يا الٰہی!
لباس اپنا سنّت سے آراستہ ہو عِمامہ ہو سر پر سجا يا الٰہی!
سبھی رُخ پہ اک مُشت داڑھی سجائيں بنيں عاشقِ مصطفٰے يا الٰہی!
ہو اَخلاق اچھا ہو كردار سُتھرا مُجھے متّقی تُو بنا يا الٰہی![1]

## په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: نيک اعمال

اے عاشقانِ رَسُول! د نيک، باكرداره او با اَخلاقه مسلمان جوړيدلو، په سُنّت د عَمَل جذبے موندلو او د اسلام د سر بلندئ د هلو ځلو كولو د پاره د عاشقان رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي دينــي ماحول سره وابسته شئ او د ذيلي حلقے 12 ديني كارونو كښې بنه پوره حِصّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

323

1…وسائل بخشش، 104102۔

د دې په برکت به مو د ګناهونو پرېښودلو، د نیکو کولو او د قبر و آخرت د تیارۍ ذهن جوړ شي. د ذیلي حلقے په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار رساله: **نیک اَعمَال** هم دہ. دا وړه شان رساله د **مکتبة المدینه** نه هدیةً واخلئ او که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې هم ډاؤن لوډ کولے شئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amal*** ایپلي کیشن انسټال کړئ، په دې کښې په **مختلفو** نیکو اعمالو باندې مشتمل سُوالونه ورکړے شوي دي، د هر یو سوال لاندې 30 خانے دي، هره ورځ د خپلې خوښې یو وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جاج [یعني جائزه] اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تیر کړئ،اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذِهن جوړ شي، د زړه پاکي به نصیب شي او کردار به مو ښکلے، ښائسته او ځلیدونکے جوړ شي. راځئ! د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنۍ سمه شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے: ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، لوفر فضول ګرځیدل، لمُونځونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یو ځل زمونږ علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ما ته د

ماښام لمُونځ ادا کولو او بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام بیان اوریدو ما له ډیر خوند راکړو، د بیان په آخر کښې مبلغ د **نیک اَعمَال** رسالے تعارُف اوکړه، د **نیک اَعمَال** رساله کښې درج د نیکو ډک ژوند تیرولو مدني ګل لیدلو سره زه ډیر خوشحاله شوم، د دې رسالے په شکل کښې د شیخِ طریقت، امیرِ اهلسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اِصلاح د پاره د زړه درد مندي لیدو سره ما سم د ټَکه د بیعت د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامِل سره مې نسبت څه راغلو، چې زړه د ګناهونو نه بیزاره شو او نیکو طرف ته مائل شو، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دینـي ماحول مې د زړه د اِخلاصه خپل کړو، د دې په برکت زما اَخلاق ښه کیدل شروع شو، زما د دې بدلون زما په کور والؤ هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شو، کور کښې د لمُونځو پابندي شروع شوه، فلمونه، ډرامې، سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو د ډکو چینلو په ځائے مدني چینل اولګیدو.[1]

خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو　　نیک ہو امَّت اے نانائے حسین

مَدنی اِنعامات کی ہو ریل پیل　　نیک ہو امَّت اے نانائے حسین[2]



1…دلوں کا چین، صفحه:4۔

2…وسائلِ بخشش، صفحه:258۔

www.dawateislami.net

خوېږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې مدني اِنعاماتو ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## المَدينه آن لائن لائبريري

خوېږو او محترمو اسلامي وروڼړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ ورځ په ورځ مونږ ته د عِلمِ دين زده كولو آسانو ذريعو راكولو كښې مَصرُوف دے. په سوؤنو كتابونو او رِسالو باندې مشتمل **المَدينه آن لائن لائبريري** كومه چې مخكښې صرف په ډيسک ټاپ ورژن كښې وه، اوس ويب ورژن كښې لائيو (براهِ راست) كړے شوې ده. په **المَدينه آن لائن لائبريرئ** كښې د **مكتبةُ المَدينه** مختلف موضوعات (مثلاً قرآن و سُنّت، عقائدِ اسلام، فقه او فتاوىٰ، اسلامي تعليمات، اخلاق و آداب، سيرتِ رسولِ عربي، سيرتِ اُمَّهَاتُ المُؤمِنِين، سِيرتِ صحابه و صحابيات، سيرتِ اوليائے كرام، سيرتِ اميرِ اهلسُنت، ملفوظاتِ اميرِ اهلسُنت او فيضانِ مدني مذاكره، اوراد و وَظائف او نعتيه كلامونه وغيره) باندې مشتمل كتابونه او رِسالے موجودې دي. د **المَدينه آن لائن لائبريرئ** نه د فائدې ترلاسه كولو د پاره د دعوتِ اسلامي ويب سائټ ***www.dawateislami.net/bookslibrary*** ته لاړ شئ او نورو له هم ترغيب وركړئ.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند د ځینو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## قناعت سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین: (1): چا چې ایمان راوړو، بقدرِ کفایت رزق ورته ورکړے شو او هغه د الله پاک په ورکړے شوي (رزق) قناعت اوکړو، بیشکه هغه کامیاب شو.[2] (2): اے ابو هریره! قناعت اختیار کړه د ټولو نه به زیات شکر ګزاره جوړ شې.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! قناعت سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے. د قناعت معنٰی ده: چې څومره میلاؤ شو په هغې راضي اوسیدل، د زیاتو

323

1…مشکوٰۃ،کتابُ:الْإِیمان،بابُ:الْإِعْتِصَام ، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔

2…مسلم، کتابُ:الزکاۃ، باب:القناعة، صفحه:376، حدیث:1054۔

3…ابن ماجه، کتاب:الزهد، باب:الورع والتقویٰ، صفحه:684، حدیث:4217ملتقطًا۔

خواهش نه کول ۞ زمونږ خوږ نبــي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته چې به څه میلاویدل په خوشحالئ به ئې خوړل ۞ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم په خوراک کښې عیب نه دے راویستے ۞ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم د خوندورو او ډیرو ښکلــي خوراکونو خواهش نه دے کړے ۞ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مال و دولت خواهش نه ساتلو.

کل جہاں مِلک اور جَو کی روٹی غذا     اس شکم کی قناعت پہ لاکھوں سلام[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په سُنَّتِ مصطفٰــی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل اوکړئ، قناعت اختیار کړئ ۞ قناعت د ایمان کمال، د اسلام ښکلا دے ۞ قناعت کوونکے پخپله د دُنیا نه ځان بچ کوي او د آخرت په لار روانیږي ۞ قناعت کوونکے د الله پاک محبوب دے ۞ د قناعت کوونکي سره خلق هم محبت کوي[2] ۞ امامِ شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: قناعت د مالدارئ اَصل دے.[3]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبةُ المَدینه** **بهارِ شریعت** جلد 3 نه

323

1...حدائق بخشش، صفحه:304۔

2...نضرة النعيم، جلد:8، صفحه:3175۔

3...دیوانِ امام شافعی، صفحه:133۔

حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 90 صفحو كتاب **550** سنتيں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر كول هم ده.

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا
چاہیے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلْم حاصِل کرو، جَہْل زائِل کرو
پاؤگے راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاگانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرگانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر

كنبي د داخليدو وخت كنبي هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر كنبي د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

www.dawateislami.net

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوک ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې

323

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩
2... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

323

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵